مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ژباړه: سمسور ودان

۲۰۲۶/۰۴/۳۰

# د فلمي نړۍ پټې ښکاره خبرې

یوه ورځ مشهور اردو ژبي سندرغاړي (محمد رفیع) د باندره په جومات کې لمونځ وکړ، د هغه عادت و چې له عقیدوي توپیر پرته به یې د جومات په انګړ کې ناستو سوالګرو او غریبانو باندې خیرات وېشه. دا ځل یو سوالګر ورته وویل: ګستاخي معاف، خو ته "دل میں چھپا کے پیار کا طوفان لے چلے" سندره راته ویلی شې؟

رفیع صیب په موسکا ورته وویل: جومات د موسیقۍ لپاره نه دی، ته له ما سره راځه. سوالګر یې خپل پرمختللي موټر کې چې له جوماته په یو څه فاصلې ولاړ و؛ کېناوه او بیا یې په ارامه ټوله سندره ورته وویله.

دا سندره یې په ۱۹۵۲م کال کې د دلیپ کمار د فلم (آن) لپاره هم ویلې وه.

له سندرې وروسته یې سوالګر ته ۱۰۰ روپۍ هم ورکړې، چې هغه ته بېخي زیاتې وې او تصور یې هم نشو کولی.

دا د فکر وړ ده چې د رفیع صیب د کچې یو کس کوم نامعلوم سوالګر ته سندره ووایي. له دې یې عاجزي او همدردي در معلومه کړئ.

زموږ خوا ته خو چې یو څوک لږ هم مشهور شي، بیا په بله هوا کې وي.

ژباړه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ